## د افغانستان په سوله کې د پاکستان رول او ځاي:-

**۱-د پاکستان رول د ډاکټر نجيب الله او د مجاهدينو د سولې په دوران کې څنګه وه؟**

تر هر څه لومړي د تيرو پنځو لسيزو راپيدېخوا د سولييزو خبرو دوران کې د پاکستان پر رول خبري کوم او وروسته بيا اوسنۍ سولې ته راګرځم. دا معلومه خبره ده چې پاکستان د افغانستان يو ازلي دښمن دي او تل يې هڅه کړي ترڅو افغانستان کې د مرکزي او قوي حکومت او دولت مخه ونيسي.

د ډاکټر نجيب الله او د مجاهدينو ترمنځ د سولې مخه پاکستان ونيوله اخير يې نجيب په دار هم کړ، همدغه پاکستان وه چې د مجاهدينو د لاري يې موقت حکومت جوړ کړ او نجيب الله يې د واکه ليري کړ. د هغه وخت قوي اردو، نظامي تجهيزات، هوايي اسلحي او منظم دولت ټول له منځه يوړل.

بيا يې د مجاهدينو ترمنځ دوه مخې سياست ولوبوه، او مجاهدينو يې خپلو کې جوړامد ته پرينښودل. پدي ډول د پاکستان د لاسوهنې په اساس زمونږ افغانستان کورنۍ جنګ ته ټيل وهل شو. ښارونه ړنګ شول، تعليمي اداري بندي شوي، مدرسې په بمونو الوزول شوې. په زرهاوو بيګناه خلک په دغه کورنۍ جنګ کې د پاکستان له لاسه شهيدان شول.

Ketabton.com

**۲-د افغان سولې لپاره د پاکستان شرطونه کوم دي او د کوم امتياز په تمه دي؟**

د ملي امنيت پخوانی رئيس او د ولسمشر جلالتماب اشرف غني لومړی مرستيال امرالله صالح وايي، چې پاکستان ورته د سولې په بدل کې ۱۱ شرطونه وړاندي کړي وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلي امرالله صالح دا خبري په کابل کي د امن کنفرانس ته په وينا کي وکړي او په هغه ورځ د صالح صاحب دا خبري ما په خپله هم واوريدي.

نوموړي زياته کړه:

لومړی شرط د ډيورنډ کرښي منل وو

دوهم په کندهار، هرات او ننګرهار کي به د هند کونسلګري تړل کيږي

دريم د افغان پوځ دريمه برخه به په پاکستان کي روزل کيږي

څلورم افغانستان او پاکستان استخبارات به يو کيږي

پنځم افغان حکومت به په بشپړه توګه د غربي نړۍ سره اړيکي پرې کوي او پر ځای به ئې د پاکستان او چين سره ستراتيژک تړون کوي

شپږم د هند او افغانستان سوداګريزي او سياسي اړيکي به پرې کيږي

اووم افغانستان به منځنۍ اسيا ته تلونکې لار د پاکستان پر مخ بشپړه خلاصوي

اتم افغانستان کي طبيعي زيرمو د قرارداد حق بايد يوائې چين او پاکستان ولري.

نهم:- د کونړ پر سيند د اوبو ډيم نه جوړول

دغو شرطونو ته په کتو خو داسي نه ښکاري چې پاکستان دې اوسنۍ سوله کې رښتنۍ اووسي.

اوس پوښتنه داده چې پخوا پاکستان د صلحي په بدل کې ددغو شرطونه غوښتنه کوله، ايا اوس هم دغه غوښتنه لري او که نه؟

اوس هم پاکستان حکومت هم په مستقيم ډول او هم د طالبانو له لاري په غير مستقيم ډول د خپلو ګټو په هڅه کې ده. او څنګه چې پکار وه هغسي رښتنې همکاري نده کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳-د پاکستان- هند اړیکې او پر افغان سوله یې اغېزې؟**

پاکستان او هند په سیمه کې د یو بل دوه سرسخته مخالف ګاونډیان دي. دواړه هڅه کوي چې په سیمه کې د یو بل د نفوذ مخه ډب کړي. د دې دواړو هېوادونو رقابتونه او نیابتي جګړې د افغانستان پر وضعیت مستقیم اغېز لري. هند او پاکستان دواړه په افغانستان کې د یو بل له نفوذ نه وېره لري. له همدې کبله د هند له ازادۍ او د پاکستان له رامنځ ته کېدو وروسته، افغانستان ته د دې دواړو هېوادونو په بهرني سیاست کې یو ځانګړی او مهم ځای ورکړل شوی. دواړه هېوادونه هڅه کوي چې په افغانستان کې د دوی د خوښې یا هم لږ تر لږه داسې یو حکومت رامنځ ته شي، چې د دوی پلوی وي.

البته په افغانستان کې د دغو دوو هېوادونو د نفوذ کولو د هڅو تر منځ یو توپیر شته، هند د سیاسي، اقتصادي او تجارتي مناسباتو له لارې د نفوذ په لټه کې دی او پاکستان د نیابتي ډلو (جګړې او ورانکاریو) له لارې

د پاکستان حکومت او د بهرنیو چارو وزارت هم په بار بار دا خبره کړې ده چې د افغانستان سوله د کشمیر له مسلې سره تړلې ده. یعنې ترڅو چې د کشمیر مسله حل شوې نه وي دا ناممکنه ده چې پاکستان دې د افغانستان سوله کې رښتنې رول ولوبوي.

له ۲۰۰۱ م کال وروسته په افغانستان د امریکا د «ترهګرۍ ضد جګړې» له امله افغان دولت هم د «ترهګرۍ» پر ضد جګړه پیل او دا یې د خپل بهرني سیاست یوه برخه وګڼله. په دې برخه کې د افغان دولت یوه لویه ستونزه دا وه چې په سیمه‌ییزو قضایاوو کې یې توازن ونه شو ساتلای، په تېره بیا د هند او پاکستان تر منځ. د بېلګې په توګه، د حامد کرزي په دوره کې د افغان حکومت اړیکې له هندي لوري سره د پاکستان په پرتله ډېرې نږدې وې؛ خو دغه چاره د پاکستان د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناخوښۍ سبب وه. د پاکستان پخوانی ولسمشر جنرال پرویز مشرف په یوه مرکه کې وايي: «موږ له ۲۰۰۱ م کال وروسته له افغان طالبانو څخه له دې کبله ملاتړ وکړ، چې افغان ولسمشر حامد کرزي له هند سره مرسته کړې وه چې له شا پر پاکستان ګوزار وکړي.»

همدارنګه د ولسمشر غني په مشرۍ د ملي یووالي حکومت په رامنځ ته کېدو سره، په لومړیو کې د کابل او اسلام آباد اړیکې ډېرې نږدې شوې. ولسمشر غني په لومړیو شپږو میاشتو کې هند ته هېڅ سفر ونه کړ او برعکس دغه مهال د کابل- اسلام اباد تر منځ د چارواکو سفرونه زیات شول؛ خو کله چې پاکستان د خپلو ژمنو په عملي کېدو کې پاتې راغی او طالبان یې د ۲۰۱۵ م کال په مارچ کې د سولې د خبرو میز ته حاضر نه شو کړای، نو د دواړو هېوادونو ګرمې اړیکې بېرته ورو ورو په سړېدو شوې.

په افغانستان کې روانه جګړه داخلي، سیمه ییز او نړیوال اړخونه لري. له همدې امله ده چې په پای ته رسېدو کې یې د سولې هڅې ټکنۍ ښکاري. افغانستان کې د سولې لپاره تر ټولو ننګوونکې دا ده، چې څرنګه د ښکیلو خواوو، سیمه‌ییزو قدرتونو او په قضیه کې د دخیلو اړخونو مشروع ګټې په یوه چوکاټ کې په نظر کې ونیول شي، څو دا پروسه بریالۍ شي.

د سیمې په کچه د هند او پاکستان د اړیکو څرنګوالی د افغانستان د جګړې او سولې یو مهم اړخ ګڼل کیږي. پاکستان د افغان سولې په روانه پروسه کې د امریکا د سختو فشارونو له امله همکارۍ ته اماده ښکاري، پاکستان د ملا عبدالغني برادر په خلاصون، د امریکا- طالبانو تر منځ د سولې هوکړه لیک او تازه د بین الافغاني خبرو په برخه کې په هلو ځلو سره ځان د افغان سولې د تامین په برخه کې یو ژمن

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګاونډی ښيي؛ خو لا هم د پاکستان پر نيت شک او شبهات په خپل ځای دي. پاکستان ظاهرا د تېر برعکس، له افغان حکومت، طالبانو او متحده ايالاتو درې واړو خواوو سره د ښو روابطو ساتلو په هڅه کې دی، خو هند د قضيې له دوو اړخونو (افغان حکومت او متحده ايالاتو سره) په ارتباط کې دی.

**۵-ايا پاکستان په واقعي معنا په اوسنۍ سوله کې رښتني دي او که نه بيا کومه لوبه کوي؟**

که مونږ او تاسو د پاکستان تير سياستونو ته فکر وکړو نو داسي خو نه ښکاري چې پاکستان دې په سوله کې رښتني وي.

کله چې جلالتماب اشرف غني د لومړي ځل لپاره رئيس جمهور شو په ۲۰۱۴ م کال کې يې خپل لومړنی سفر پاکستان ته وکړ او له سياسی چارواکو سره له ليدو وروسته يې آن د پوځ ستر مرکز جی ايچ کيو ته هم سر ور ښکاره کړ او د سياسی او پوځی کار پوهانو په وينا نوموړی له پاکستان سره په يو لړ هوکړو هم کرښي وکښلي خو د وخت په تېرېدو د ملی يووالی حکومت داسې وانګېرله چې ګواکې پاکستانی لوری پر هغو هوکړو او وعدو چې د ښاغلی غنی د سفر پر مهال يې کړې وې، و نه درېد، ځکه په هېواد کې جګړې لا پسې زور واخيست او د نظامی تلفاتو ترڅنګ د ملکی خلکو تلفات هم ورځ تر بلې خورا لوړ شول، نو په همدې توګه له ياد هېواد سره د بې باورۍ فضاء بيا ځلې رامنځ ته شوه، د هند په امرتسر کې د آسيا زړه په شپږم کنفرانس کې ښاغلی غنی د پاکستان هغه اعلام شوې مرسته چې د افغانستان د اقتصادی پرمختګ لپاره يې اعلام کړې وه، هم و نه منله او د تروريزم له ملاتړ څخه يې د ياد هېواد لاس اخيستل د مرستې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

انډول مهم وګڼل او د پاکستان لورى يې د مخالفو وسله والو په ملاتړ مخامخ ملامت کړ.

دا صرف د پاکستان دوه مخي پاليسي د ملي وحدت د حکومت پر وړاندي نه وه، پاکستان د ښاغلي ولسمشر حامد کرزي په وخت کې هم د افغانستان پر وړاندي دوه مخي سياست کوه او مستقيما يې د طالبانو تجهيز او ملاتړ کوو. او هغه طالبان مشران چې د سولې ملاتړې وه يا ووژل يا ونيول.

د پاکستان د رول په اړه په واشنګټن کې د پاکستاني پخواني سفير حسين حقاني څه وخت مخکي ويلي وه افغان سوله د پاکستان يوه ډرامه ده. پاکستان هڅه کوي د څه مودې لپاره پر ځان د امريکا فشار راکم کړي.حقاني زياته کړي وه له افغانستان څخه د امريکايي ځواکونو تر وتلو وروسته به طالبان د پاکستان په ملاتړ د افغانستان حکومت پر وړاندې جګړه زياته کړي.

د افغانستان پخواني ولسمشر حامد کرزي دافغانستان په سوله کې د پاکستان رول په اړه نيوکه کړي وه. ښاغلى کرزي له هند ورځپاڼې سره په مرکه کې وويل:له کشمير سره د افغانستان دسولې د بهير اړه ورکولو لپاره د پاکستان هڅه د دى ښکارندويې کوي چې دا هيواد لاهم افغانستان د خپلې تګلارې لپاره ژور ځاى بولي چې دا بيا د افغانستان په زيان ده،د کشمير پيښو او د افغانستان د سولې د بهير ترمنځ هيڅ اړيکې نه وينو او هيله مند يو پاکستان هڅه ونه کړى د افغانستان دسولې بهير له هغو موخو سره چې په کشمير کې يې لري په ولکه کې ونيسى.

اوس د افغانستان حکومت ته پکار ده ترڅو په روانه سوله کې د پاکستان د دوه مخي سياست سره محتانه چلند کړي او پاکستان په

(c) ketabton.com: The Digital Library

واقعي معنا سولې ته ژمن کړي. که نه ليري نده چې دا سوله هم يوه ډرامه او د وخت ضايع وي.

## ۶-افغان سوله کې د پاکستان ګټې څه دي؟

که چيري پاکستان د افغانستان په سوله کې ربښتني رول ولوبوي نو پاکستان به واقعا ډير مفاد ترلاسه کړو چې ځينی له هغي دلته ورته اشاره کومه.

اول:-افغان سوله د پاکستان د اقتصادي پرمختګ لامل ګرځي

پاکستان وايي؛ د افغانستان امنيت او سوله د پاکستان په ګټه دي؛ ځکه په دې توګه د پاکستان سوداګري پراختيا کوي او ددغه هېواد اقتصاد غوړيږي.

دوهم:-د نړيوالې انزوا څخه د پاکستان خلاصون او د ترهګري د خړ ليست ځان ويستل

دريم:-امريکا څخه د نغدي مرستې ترلاسه کول

څلورم:-په افغانستان کې د هند د نفوذ کمول او د افغانستان په اقتصادي، پرمختايی او سياسي چارو کې د پاکستان ښکيلتيا

پنځم:- پاکستان ربښتنې همکاري په سوله کې کولي شي چې پاکستان د افغانستان له لارې منځنی اسيا ته د سوداګرۍ فرصت ترلاسه کړي.

شپږم:-ځان له ټروريزم څخه د ملاټړ اداري له خړ ليست څخه وباسي
.

اووم:-پاکستان د سولي له لاري کولی شي چې په افغانستان کې د پښتون ژغورني غورځنګ د پراخيدونکي پلويانو مخه ونيسي.

د يادونې وړ بولم چې پاکستان اوس مهال تر ټولو زياته ويره د طوفان په شان د راټوکيدونکي د پښتون ژغورني غورځنګ څخه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتم:- د پاکستان او چین نوي ستراتیژیک او اقتصادي پروسه سیپیک کې د افغانستان دخول سره پاکستان په منطقه کې کولي شي هند منزوي کړي.

ترتیب کوونکي: رنځپوه عرفان پټان کاموي

## ماخذونه:-


۱-اریانا نیوز

۲-شېراني ـ ضیاء الاسلام (سپوږمي راډیو)

۳-د هند ورځپاڼې سره د حامد کرزي مرکه

۴-جمهوري خبري اژانس ـ کابل

۵-ستراتیژیکو او سیمه ایزو اړیکو مرکز ـ رفیع الله روان لیکنه

۶-نیازي ـ محمد داود نیازي لیکنه

۷-کندهار ورځپانه

۸-روهي ویب پاڼه

۹-امرالله صالح وینا د کابل امن کنفرانس کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مؤلف لنډه پيژاندنه:-

رنځپوه عرفان پټان کاموي د لعل محمد زوي او د ننګرهار ولایت د کامې ولسوالي د شيلام رعتی کلي اوسيدونکي دي. کاموي صاحب په 1375هجري شمسي کال کې چې د 1996م کال سره سمون خوري د کوچني اختر په شپه زيږيدلي دي. کاموي صاحب خپلې لومړنۍ زده کړې د کامې ولسوالي په مولوي محمد ابراهيم متوسط ښوونځي کې سرته رسولي دي، او ثانوي زده کړې يې بيا د مراد علی عالي ليسه کې سرته ورسولي، او په 1394 هجري شمسي کال کې تري په اعلی درجه فارغ شو. د همدغه کال د کانکور په ازموينه کې د ننګرهار طب پوهنځي ته بريالي شو. ښاغلي کاموي صاحب اوس هم د ننګرهار د طب پوهنځي د پنځم کال محصل دي.

محترم کاموي صاحب د هغه مينه په اساس چې د پښتو ژبې او پښتنو سره يې لري د خپل ځوانۍ له عمر څخه په ليکوالۍ او ژباړې پيل کړي وه. هېره مو نه وي چې کاموي صاحب د ژبژغورني غورځنګ فعال غړي او د زيات وخت لپاره ددغه غورځنګ د ننګرهار څانګې مسول هم وه.

د پټان نور ليکل شوي اثار عبارت دي له:

۱-علامه سيد جمال الدين افغان ـ ناچاپ

۲-اسلاميک انګليش ټو پښتو ډکشنري ـ ناچاپ

۳-اوپيډ درمل او د هغوي زيانونه ـ ناچاپ

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴-امریکایي رئیس جمهوران وپیژاني ـ ناچاپ

کاموي صاحب د کتابونو ترڅنګ ځینې مقالي هم لیکلي چې عبارت دي له:

۱-د افغانستان سوله کې د پاکستان رول ـ 2020م

۲-د افغانستان لویو ښارونو کې د هوا د ککړتیا عوامل او حل لاري ـ2020م

د رنځپوه عرفان پټان کاموي د نورو برياوو په هیله

Whatsapp: 0782292067

Email: irfanp518@gmail.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**